NATIONAL IMMIGRANT JUSTICE CENTER
A HEARTLAND ALLIANCE PROGRAM

# د پناه غوښتنې دفتر مرکې لپاره چمتو کېدل

د افغان پناه غوښتونکو لپاره لارښود

**عامې پوښتنې**

**1. مرکه به کله وشي؟**
عموماً، وروسته لدې چې تاسي د پناه لپاره غوښتنلیک وسپارئ شاوخوا 6-4 اونیو کي تاسي د مرکې لپاره خبرتیا ترلاسه کوئ. مرکه ستاسي د خبرتیا ترلاسه کولو نه شاوخوا 3-2 اونۍ وروسته وي. (د خبرتیا یوه بیلګه ضمیمه ده.)

**2. څوک اړ دي مرکه کې ګډون وکړي؟**
تاسي؛ ستاسي میرمن؛ او ستاسي ماشومان، که هغه تاسي سره د امریکا متحده آیالاتو کې وي او که ستاسي ماشومان واده شوي نه وي، او ستاسي د پناه غوښتنې کولو پرمهال یې عمر 21 کلنۍ نه کم وی. که تاسي د کوچني ماشومانو لرونکي یوازیني والد په حیث خپله مرکه کې ګډون کوئ، تاسي باید ځان سره څوک راوړئ چې د ماشومانو پاملرنه وکړي.

**3. زه باید مرکې ته ځان سره څه راوړم؟**

- مرکه کې ګډون کونکي هر فرد باید د مخ ماسک ولري
- د مرکې خبرتیا
- پاسپورټ یا د پیژند نور اسناد، پشمول د کار جواز، ستاسي لپاره، ستاسي میرمن، او ستاسي د ماشومانو لپاره، که تاسي یې لرئ
- د I-94 کارت یا I-94 آنلاین چاپ، که تاسي یې لرئ
- ستاسي ماشومانو لپاره د زیږون تصدیق پاڼي او ستاسي میرمنې لپاره نکاح خط، د انګلسي ژباړې سره، که تاسي یې لرئ
- ستاسي لخوا د سپارل شوي پناه غوښتنلیک کاپي
- د نورو هغه اسنادو کاپي چې تاسي غواړئ د پناه غوښتنې دفتر یې ملاحظه کړي
- اوبه (تاسي نشئ کولی د پناه غوښتنې دفتر ته خواړه راوړئ، مګر کولی شئ اوبه راوړئ.)

**4. آیا زه اړ یم ژباړونکی د ځان سره راوړم؟**
که تاسي په دري یا پښتو ژبه غږیږئ، د پناه غوښتنې دفتر به ستاسي مرکې لپاره د تلیفون له لارې د ژباړونکي بندوبست وکړي. که تاسي هیڅ په انګلسي ژبه نشئ غږیدلی، نو تاسي کولی شئ د ځان سره یو څوک راوړئ چې د مرکې پیل کیدو نه مخکي د نورو سره غږیدو کې تاسي سره مرسته وکړی شي.

**5. مرکه به څومره دوام وکړي؟**
مرکه ممکن 4-2 ساعتونه او ځیني وختونه لدې هم ډیر وخت اخلي.

**6. که زه اړ اوسم بل وخت ته خپله مرکه مهالویش کړم نو څه کیږي؟**
د خپلې مرکې د نیټې بدلول کولی شي ستاسي کیس د ځنډ سره مخ کړي او ستاسي لپاره په راتلونکي کې د دندې جواز ترلاسه کول سختوي. که تاسي اړ اوسئ چې باید د بل وخت مهالویش غوښتنه کړئ، د پناه غوښتنې دفتر ته په انګلسي ژبه کې لیک ولیږئ، او تشریح کړئ چې تاسي ولې غواړي مرکه بل وخت ته مهالویش کړئ. د شیکاګو د پناه غوښتنې دفتر پته دا ده 181 W. Madison Street, Suite 3000, Chicago, IL 60602.

**7. زه د شیکاګو د پناه غوښتنې دفتر ته څنګه ورشم؟**
د شیکاګو د پناه غوښتنې دفتر دلته موقعیت لري 181 W. Madison Street, Suite 3000, Chicago, IL 60602. دا د میډیسن او ویلز په څنډه کې دی. کله چې تاسي راورسیږئ، په لابي کې د هرکلي میز ته ورشئ او خپل د مرکې خبرتیا وښایئ. د هرکلي نفر به تاسي ته یو کارت درکړي او درته به ووایي چې په لفټ کې 30ام پوړ ته لاړ شئ. په 30ام پوړ کې تاسي د شیشه ای دروازو له لارې د پناه غوښتنې دفتر ته ځئ.

**هر اسناد چې تاسي غواړئ د پناه غوښتنې دفتر ته یې ورکړئ باید انګلسي ژبې ته ژباړل شوي وي او باید لاسلیک شوی بیان پکې شامل وي چې هغه فرد چې دا اسناد یې ژباړي په انګلسي ژبه او په هغه ژبه کې مهارت لري چې دا اسناد په کومه ژبه دي او د خپلې غوره وړتیا سره سم یې دا اسناد ژباړلي دي. **

## د مرکې لپاره څنګه چمتو شئ

- خپل د پناه غوښتنلیک او د ټولو هغه اسنادو بیاکتنه وکړئ چې تاسې یې د پناه غوښتنې دفتر ته ورکوئ. هغه نیټې او نومونه تمرین کړئ چې ستاسې د پناه غوښتنلیک لپاره مهم دي. کله چې تاسې څخه د پناه کیس په اړه پوښتنې وشي نو هڅه وکړئ تل ورته او هماغه یو شان توضیحات ورکړئ.

- لاندې پوښتنو ته ځواب ورکول تمرین کړئ:
  - تاسې ولې افغانستان ته بیرته ستنیدو نه ویریږئ؟
  - تاسې یا ستاسې د کورنۍ غړو په افغانستان کې کوم زیان تجربه کړی دی؟
  - هغه دلیل یا لامل څه دی چې کوم چا تاسې ته مخکې زیان رسولی او یا په راتلونکې کې به تاسې ته زیان ورسوي؟
  - آیا هغه خلک چې غواړي تاسې ته زیان ورسوي په افغانستان کې د حکومت یا د طالبانو برخه دي؟
  - که چیرې هغه خلک چې غواړي تاسې ته زیان ورسوي په افغانستان کې مخکیني حکومت یا طالبانو پورې تړاو نلري، نو تاسې ولې د حکومت څخه خوندیتوب نشئ ترلاسه کولی؟
  - که تاسې اړ اوسئ چې بیرته افغانستان ته ولاړ شئ نو تاسې ته به څه پیښ شي؟ ولې؟
  - تاسې ولې نشئ کولی په افغانستان کې بل چیرې لاړ شئ ترڅو خوندي اوسئ؟

- مشخص اوسئ. پدې اړه ځوابونو ورکول تمرین کړئ چې په افغانستان کې شتون **تاسې** لپاره ولې خوندي ندی او په ځانګړي توګه **تاسې** ته به ولې زیان ورسیږي. عمومي ځوابونه مه ورکوئ لکه "افغانستان ډیر خطرناک دی."

- **په یاد ولرئ** :خپل وخت ونیسئ. که اړتیا لرئ د دمې یا وقفې غوښتنه وکړئ. که تاسې په کومه پوښتنه نه پوهیږئ، ووایی "زه پوه نشوم" یا "آیا کولی شې دا بیا تکرار کړې؟" که تاسې کوم ځواب باندې نه پوهیږئ، ووایی، "زه نه پوهیږم."

## په مرکه کې د څه شي تمه کولی شئ

- هر څه چې تاسې په مرکه کې وایی هغه محرم دي. دا د امریکا متحده آیالاتو حکومت نه بهر نشي شریکیدی.

- په مرکه کې به تاسې په یوه دفتر کې د پناه غوښتنې مامور سره اوسئ. که تاسې اړتیا ولرئ د تلیفون له لارې به ژباړونکی موجود وي.

- د مرکې په پیل کې به د پناه غوښتنې مامور ستاسې د پناه غوښتنلیک لومړۍ برخې بیاکتنه وکړي ترڅو ډاډ لاسته راوړي چې ستاسې کورنۍ او شخصي تاریخچې په اړه ټول معلومات صحیح دي. که کوم څه پکې ناسم وي، د پناه غوښتنې مامور به غوښتنلیک سم کړي.

- ستاسې د شخصي معلوماتو بیاکتنې نه وروسته، د پناه غوښتنې مامور به احتمالآ له تاسې پوښتنه وکړي چې تاسې ولې د پناه لپاره غوښتنه کوئ. د خورا مهمو دلایلو په اړه د لنډ ځواب ورکولو لپاره چمتو اوسئ چې تاسې ولې پناه ته اړتیا لري. ډاډه اوسئ چې خپل وضعیت په ځانګړي توګه تشریح کړئ نه دا چې دافغانستان عمومي وضعیت تشریح کړئ. د پناه غوښتنې مامور به بیا تاسې نه نورې پوښتنې وکړي ترڅو ستاسې د کیس په اړه ډیر تفصیلات ترلاسه کړي.

- ډیری پوښتنې شتون لري چې د پناه غوښتنې مامور یې له هر چا کوي. دې پوښتنو سره د ناکرارۍ احساس مه کوئ. د پوښتنو په صداقت سره ځواب ورکول مهم دي.
  - آیا تاسې کله هم په بل هیواد کې تابعیت درلود یا په بل هیواد کې مو د پناه لپاره غوښتنه کړې ده؟
  - آیا تاسې کله هم د یوې تروریستي ډلې غړی وئ یا یوه ډله چې تاوتریخوالی کاروي، یا آیا تاسې کله هم د داسې یوه سازمان سره مرسته کړې چې تاوتریخوالی کاروي؟ د دې پوښتنې په اړه نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د تروریزم مانع توضیحاتو پاڼه وګورئ.
  - آیا تاسې کله هم کوم چا ته زیان رسولی یا کوم چا ته زیان رسیدو کې مو مرسته کړې ده؟
  - آیا تاسې کله هم جرم کړی دی یا نیول شوي یا توقیف شوي یې؟
  - آیا تاسې د اردو، پولیسو یا امنیتي ځواکونو لپاره کار کړی دی، یا د هغوی څخه مو روزنه ترلاسه کړې ده؟

- که تاسې د خپلې میرمنې او/یا ماشومانو سره د پناه لپاره غوښتنه کوئ، نو د پناه غوښتنې مامور ممکن ستاسې میرمنې څخه هم ځینې پوښتنې وکړي. مامور به د کوچنې ماشومانو پوښتنې ونکړي.